د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهوری اسـلامی افغانستان
دټولګټو وزارت - وزارت فـواید عامـه
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Public Works
رسنیز دفتر
دفتر مطبوعات
شنبه ۲۲ غبرګولي ۱٤۰۰ کال-دریمه ګڼه - لومړی پاڼه
لار اونیزه - هفته نامه راه



ټولګټو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوری په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

# د ټولګټو وزارت د رهبرۍ اصلاحات او جدیت د پروژو د چټکتیا سبب شوي

د ټولګټو وزارت د رهبري له لوري د بنسټیزو اصلاحاتو د پروسې تطبیق او جدیت د دې سبب شوي، چې د رغنیزو پروژو چارې د پخوا پر تله څو برابره ګړندۍ شي.

دا مهال په ټولیز ډول د ټولګټو وزارت له لوري د هېواد په ګوټ ګوټ کې تر ۱۸۳۰ کیلو متره ډېر سړک رغنیزې چارې روانې دي چې د چارو د سرعت تر څنګ یې د کارونو کیفت او هر اړخیزې څارنې ته هم جدي پام کیږي. نه یوازې دا چې د رغنیزو پروژو په ورځنیو کارونو کې چټکتیا رامنځته شوې، بلکې په بېلابېلو برخو کې د فساد او وظیفوي غفلت د مخنیوي اړوند پیل شوې مبارزه هم په ډېرې چټکۍ سره روانه ده. ټولګټو وزارت په دې وروستیو کې ګڼ اصلاحات رامنځته کړي او لا هم د اصلاحاتو په پراختیا کار کوي، تر څو د مرکز په شمول په ټولو ولایتي ریاستونو کې هم یاده پروسه تطبیق کړي، او دا چاره د دې سبب شي چې د افغانستان په هره برخه کې د وزارت اړوند پروژې په خپل وخت او تعهد شوي کیفیت سره بشپړې شي.

د بېلګې په توګه د چارو ګړندیتوب د کابل ـ میدان وردګو په دویم لین سړک، د کنړ ـ نورستان سړک، د لوګر ټانک څخه تر چهل دختران پورې، له غور څخه د هرات پر لوري سړک، د هرات - چشت شریف سړک او د جلال آباد، تالقان او نیلي ښارونو دننه سړکونو کې لیدل کېدی شي.

ټولګټو وزارت خپلو لویو موخو ته د رسېدو لپاره په ټول توان سره هڅه کوي چې د هېواد په ګوټ - ګوټ کې د ټولو پلان شویو سړکونو پروژې په لوړ کیفیت او ټاکلي وخت سره بشپړې کړي، تر څو نه یوازې د سلګونه زره خلکو ټرانسپورټي ستونزې ورسره هوارې شي، بلکې د یوې ټرانزیټي شبکې په توګه د هېواد زراعتي، طبیعي او صنعتي محصولاتو ته د اسانه او ارزانه انتقالاتو پرېمانه زمینې برابرې کړي.

## ساختمان لات اول سرک هرات – چشت شریف ۵۱ فیصد پیشرفت کاری دارد

لات اول سرک هرات - چشت شریف ۳۵ کیلومتر طول، ۱۲,۳۰ متر عرض عمومی که ۱۰ متر آن سفالت یا قیر و یک یک متر شانه های دو طرف سرک میباشد، همچنان در مسیر این سرک ۲۹٤۰ متر جویچه ها و ٦۰۰ متر دیوار های استنادی نیز شامل میباشد.

این پروژه میان وزارت فوایدعامه و یک شرکت ساختمانی ترکی قرارداد گردیده و تا کنون ۵۱ فیصد پیشرفت کاری دارد.

سرک هرات - چشت بخشی از دهلیز شرق- غرب می باشد که با ساخت آن قسمتی از این دهلیز حیاتی تکمیل میگردد.

با تکمیل شدن کار آن باعث فراهم سازی تسهیلات ترانسپورتی می شود، عامل انکشاف و پیشرفت ولسوالی های شرق ولایت هرات می باشد و در انکشاف زیربنایی و انتقال سنگ مرمر ولسوالی چشت شریف نقش اساسی دارد.

قابل ذکر می باشد که سرک هرات – چشت شریف به طول مجموعی ۱۵۵ کیلومتر به پنج بخش تقسیم گردیده، لات اول ۳۵ کیلومتر و چهار لات دیگر آن هر لات ۳۰ کیلومتر طول دارد.



## د کندوز له سر دورې بازار څخه تر هوايي ډګر پورې د سړک بې کیفیته برخې بیرته په اساسي ډول جوړېږي

ټولګټو وزارت په جدیت سره قراردادي ته سپارښتنه کړې چې د کندوز ولایت له سردوره بازار څخه تر هوایي ډګر پورې د ٥,٧٦ کیلو متره سړک تخریب شوي برخې بیرته په بنسټیز ډول ورغوي.

د ټولګټو وزارت رهبرۍ د خلکو تر شکایتونو وروسته سیمې ته د سړک د ارزونې لپاره تخنیکي ټیمونه استولي و چې په پایله کې د سړک ستونزه په یخه هوا کې د قیر اچونې له کبله جوته شوې او له همدې کبله په ځینو برخو کې اسفالټ اوښتی یا (Segregation) رامنځته شوی دی. ټولګټو وزارت قراردادي شرکت مکلف کړی چې پر بې کیفیته ځایونو کې یو لایه نور قیر یا ( wearing course) واچوي او د سړک ستونزه په بنسټیز ډول هواره کړي.

د دې سړک د جوړېدو چارې اوس مهال په ګړندۍ توګه روانې دي چې په نږدې ورځو کې به بشپړې او د سړک ستونزه به هواره شي.



## کار ساختمان بخش چهارم سرک گردیز – زرمت ۲۰ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک به طول مجموعی ٤۲ کیلومتر از شهر گردیز مرکز ولایت پکتیا آغاز الی ولسوالی زرمت امتداد دارد، کار سه بخش آن از سوی وزارت فوایدعامه قرارداد و عملاً جریان دارد. سرک گردیز - زرمت، به چهار بخش تقسیم شده است که سه بخش آن هر کدام به طول ۱۰ کیلومتر و بخش چهارم آن به طول ۱۲ کیلومتر میباشد. بخش چهارم سرک گردیز - زرمت ۱۲ کیلومتر طول و ۱۰ متر عرض دارد، با یک شرکت ساختمانی خصوصی قرارداد شده است و تا کنون ۲۰ فیصد پیشرفت کاری دارد، با تکمیل شدن این پروژه برعلاوه باشندگان ولسوالی زرمت، برای باشندگان ولایت پکتیکا نیز سهولت های ترانسپورتی مهیا می گردد.

قابل ذکر است، سرک ولسوالی زرمت الی شرنه مرکز ولایت پکتیکا قبلاً اعمار و ساختمان گردیده بود که با تکمیل شدن کار ساختمان مکمل سرک گردیز - زرمت نه تنها شهر گردیز ولایت پکتیا با شهر شرنه ولایت پکتیکا وصل می شود، بلکه از طریق این سرک ولایت پکتیا با ولایت غزنی نیز وصل می گردد.



اونیزه لاراه هفته نامه



لار جوړونه ثواب، خو ورانولی یې ګناه او عذاب دی.

## د کرکټ بورډ اجراییه رییس د ټولګټو له وزیر سره وکتل



د ټولګټو وزیر انجنیر نجیب الله یمین د کرکټ بورډ له اجراییه رییس ډاکتر حامد شینواري سره په لیدنه کې پر دوه اړخیزو همکاریو ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې د ټولګټو وزیر کرکټ د هیوادوالو د یوالي لپاره غوره لوبه وبلله او زیاته یې کړه چې د افغانستان کرکټ په لنډ وخت کې ډېر پرمختګ کړی خو اړتیا ده چې دا پرمختګ نور هم ګړندی وساتل شي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه چې په افغانستان کې ډېر ځوانان د کرکټ سره علاقه لري او له همدې کبله تکړه کسان پکې پیدا کېدی شي چې د کرکټ بورډ پام ور اوښتل ورته اړین دی. په ورته وخت کې د کرکټ بورډ اجراییه رییس بیا د ټولګټو وزارت د رهبری له لوري رامنځته شوي وروستي اصلاحات او پرمختګونه وستایل او زیاته یې کړه چې په کرکټ بورډ کې هم ګڼ اصلاحات رامنځته شوي او لا هم د پراختیا په حال کې دي.

ډاکتر شینواري همدا شان زیاته کړه چې کرکټ بورډ اوس ډېره پانګونه په لوبو کې پر غوره مدیریت او تنکیو ځوانانو کوي چې د هیواد له ګوټ ګوټ څخه مستعد کسان راپیدا او په لوبو کې چانس ورکړي.



## قسمت های بی کیفیت سرک سر دوره الی میدان هوایی کندز دوباره ساخته می شود

این سرک به طول ۵,۷۶ کیلومتر به شکل اسفالت با ساختمانی های آبرو از بازار سر دوره آغاز الی میدان هوایی کندز امتداد دارد.

رهبری وزارت فوایدعامه، به اساس شکایت های مردم تیم تخنیکی را جهت بررسی و ارزیابی پروژه متذکره به ساحه اعزام نمود، بعد از ارزیابی تیم تخنیکی مشخص گردید که در سطح سرک درشتی (segregation) به میان آمده است. تیم تخنیکی این وزارت، شرکت قراردادی را مکلف نمود تا در قسمت های که درشتی بوجود آمده است، یک لایه دیگر (wearing course) انداخته و مشکلات بوجود آمده در پروژه را حل نمایند.

اکنون کار آن توسط شرکت قراردادی در ساحه جریان دارد و در روز های آینده تکمیل می شود.



## په سالنګ ولسوالۍ کې د کېبلي پله پر ځای اساسي پُل جوړېږي

د پروان ولایت په سالنګ ولسوالۍ کې د هغه پله پر ځای اساسي پُل جوړېږي چې خلکو به په یوه کېبل پسې نښتې جالۍ کې ځانونه ځوړندول او تر سیند به پورې وتل. ټولګټو وزارت دې ستونزې ته په کتو سره اوس مهال په یاده سیمه کې د خطرناک کېبلي پله پر ځای ۳۰ متره اساسي پل او ۲۰۰ متره کانکرېټي سړک جوړوي. د دې پروژې د رغنیز کار تړون د ټولګټو وزارت لخوا له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره شوی، چې مالي لګښت یې د هیواد له ملي بودیجې څخه ورکول کیږي. د دغه پله له جوړېدو سره به د سیمې د اوسېدونکو د تګ راتګ ستونزې هوارې او د جوړېدو پر مهال یې هغوی کاري فرصتونه رامنځته شوي دي. د یادولو وړ ده، چې ټولګټو وزارت د کلیو د لار جوړونې ملي پروګرام ( NRAP) له لارې هڅه کوي چې د هیواد په لرو او ورسته پاتې سیمو کې د خلکو د تګ راتګ لپاره لارې او پلونه جوړ کړي.

لار اونیزه - هفته نامه راه

لاره اونیزه هفته نامه



تولګټیو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوری په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

## بخش دوم سرک چغچران – گردندیوال در ولایت میدان وردک ۷۱ فیصد پیشرفت کاری دارد

بخش دوم سرک چغچران - گردندیوال ٦۰ کیلو متر طول و ۱۱ متر عرض دارد که ٥٥ کیلو متر آن در ولایت میدان وردک و ٥ کیلومتر متباقی آن در ولایت بامیان تحت ساختمان قرار دارد.

این پروژه یک بخش مهم از دهلیز شرق - غرب افغانستان است که کار اعمار و ساختمان آن با ۷۱ فیصد پیشرفت کاری ادامه دارد.دهلیز شرق - غرب یکی از پروژه های مهم زیربنای ترانسپورتی افغانستان است که از ولایت ننگرهار آغاز و با عبور از ولایات لغمان، کابل، میدان وردک، بامیان و غور به هرات وصل می شود.قسمت های زیاد این دهلیز در گذشته اعمار و ساختمان شده است، بعضی قسمت های آن در ولایات میدان وردک، غور و هرات تحت کار میباشد و متباقی در مراحل سروی، دیزاین و تدارکات قرار دارند.دهلیز شرق - غرب یکی از مسیر های مهم، اساسی و نزدیک میباشد که با تکمیل شدن آن بندر تورغندی ولایت هرات با بندر تورخم ننگرهار وصل می شود.



## د کندوز په امام صاحب ولسوالۍ کې د بیشکپه سړک رغنیز کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته چمتو دی

دا سړک چې ١٤,٥ کیلومتره اوږدوالی او د سړک غاړو تر څنګ ٤ متره پلنوالی لري، اوس مهال یې رغنیز کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته چمتو دی.

د دې پروژې رغنیز کار د څه باندې ۹۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټولګټو وزارت لخوا له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره تړون شوی وو، چې مالي لګښت یې د هېواد له ملي بودیجې څخه ورکول کېږي.

د دې سړک د کار له بشپړیدو سره به د بیش کپه افغانیه، ازبکیه، ترکمنیه، مجر ترکمنیه، نوآباد، غوري درک، ده نازي، شهباز، ملا نجیب او قبلنجر کلیو د اوسېدونکو د تګ راتګ ګنې ستونزې هوارې او د امام صاحب ولسولۍ به له مرکز سره ونښلي.



## کار اعمار و ساختمان سرک تانگ لوگر الی چهل دختران ۳۸ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک از منار نجات کابل آغاز الی سیاه بینی امتداد دارد. و دارای ۷ کیلومتر طول و ٦۰ متر عرض می باشد که تا حال کار های ساختمانی این پروژه بیشتر از ۳۸ فیصد پیشرفت کاری دارد، که در بعضی نقاط این مسیر اسفالت ریزی شده و در دیگر بخش ها کار های ساختمانی به سرعت ادامه دارد.

این سرک یکی از دهلیز های مهم اقتصادی کشور است، که مرکز کابل را از طریق ولایات جنوب شرقی به بندر غلام خان و خط فرضی دیورند وصل می کند.

قابل یاد آوریست، با تکمیل شدن کار اعمار و ساختمان این سرک، مشکلات رفت آمد بسیاری مردم در ولایات جنوب شرقی را تسهیل می کند.



## د خوست مرکز اړوند پنزایي کلي سړک د جوړولو چارې ٤٧ سلنه کاري پرمختګ لري

د خوست ولایت مرکز اړوند پنزایي کلي سړک چې تر یو کیلومتر ډېر اوږدوالی لري اوس مهال یې د جوړولو چارې څه باندې ٤٧ سلنه بشپړې شوې.

دا سړک چې مالي لګښت یې د ټولګټو وزارت له پراختیایي بودیجې څخه کول کیږي، د جوړولو تړون یې له یو خصوي ودانیز شرکت سره د څه باندې ۳٦ میلیونه افغانیو په ارزښت لاسلیک شوی دی.

د یادولو وړ ده، چې د پنزایه کلي سړک په جوړیدا سره به د بوڅیخېل، علیدایه او د میاخېلو کلي له خوست ښار سره ونښلي او د پخوا په پرتله به د تګ راتګ په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړي.



## ساختمان لات دوم سرک دانش - پل مغان ولایت کاپیسا ۸۸ فیصد پیشرفت کاری دارد

لات دوم سرک دانش - پل مغان دارای ٥ کیلومتر طول و ٦ متر عرض می باشد، به قیمت بیشتر از ١١٤ میلیون افغانی میان وزارت فوایدعامه و دو شرکت ساختمانی خصوصی قرار داد شده و از سوی حکومت افغانستان تمویل می گردد. در مسیر این سرک ۷١ پایه پلچک به اندازه های مختلف و ۲۳۲۳ متر جویچه های کنار سرک را نیز اعمار می شود و تاکنون ۸۸ فیصد پیشرفت کاری دارد.

با تکمیل شدن کار ساختمان هر سه لات این پروژه ۲۰ قریه با ولسوالی های حصه اول و دوم کوهستان و از طریق آن به محمود راقی مرکز ولایت کاپیسا وصل می شود که کاهش فاصله میان ولسوالی ها را به همراه دارد. قابل ذکر است، طول مجموعی سرک دانش الی پل مغان بیشتر از ۲۰ کیلومتر بوده، بخش اول آن تکمیل گردیده آماده بهره برداری می باشد و بخش سوم تحت ساختمان قرار دارد.



لار اونیزه - هفته نامه راه
لار اونیزه هفته نامه راه

سړکونه د ولسونو ترمنځ د اتصال کړۍ
او د اقتصادي ودې بنسټیزه سرچینه ده.



# اعمار و ساختمان پُل ۱۵ متره در ولسوالی ورس ولایت بامیان ۹۲ فیصد پیشرفت کاری دارد

این پُل آهن کانکریتی به شمول ۳۰۰ متر سرک اتصالی جغل فرش آن در منطقه گیروجوی قریه غجور ولسوالی ورس ولایت بامیان موقعیت دارد و تاکنون ۹۲ فیصد پیشرفت کاری دارد.

پروژه متذکره به قیمت بیشتر از ۱۰ میلیون افغانی میان وزارت فوایدعامه و شورای انکشافی محل قرار داد گردیده است و از سوی حکومت افغانستان تمویل میگردد.

در جریان کار ساختمان این پروژه برای مردم محل ۷۳۰ روز کاری به طور مستقیم و غیر مستقیم ایجاد نموده است و با تکمیل شدن کار آن بر علاوه قریه غجور، در رفت و آمد قریه های اطراف این پُل سهولت های ترانسپورتی را مهیا می سازد.



# د بلخ په مارمول ولسوالۍ کې د ۸،۹۱ کیلومتره سړک رغنیز کار دوام لري



دا سړک چې ټولټال ۸،۹۱ کیلومتره اوږدوالی لري، ٤،٢٦ کیلومتره یې په کانکریټي او ٤،٧ کیلومتره نور یې په جغلي شکل سره د مارمول ولسوالۍ له مرکز څخه د دې ولسوالۍ تر باغ چاه کلي پورې غځېږي، چې اوس مهال یې رغنیز کار له ٦،٥ سلنه کاري پرمختګ سره دوام لري.

دا پروژه د ټولګټو وزارت له لوري له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره، د څه باندې ۷۲ میلیون افغانیو په ارزښت تړون شوی، چې مالي لګښت یې د هېواد له ملي بودیجې څخه ورکول کېږي. د سړکونو د رغښت په دې پروژه کې به د اړوندو سیمو وګړو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول ۱۱۷۰ کاري ورځې رامنځته شي او هم به د جوړېدا په صورت کې تر ۱٤زره تنه په مستقیم او ١٦ زره تنه نور به ترې په غیر مستقیم ډول ګټه واخلي. د یادولو وړه ده، چې د دې پروژې له بشپړېدا سره به د مارمول ولسوالۍ ګڼ کلي د دې ولسوالۍ مرکز سره ونښلي او د کرنیزو توکو د انتقال، روغتیایي او ښوونیزو مرکزونو ته د لاس رسي زمینه به تر پخوا اسانه او ښه شي.

## کار اعمار و ساختمان سرک های داخل شهر نیلی ۷۰ فیصد پیشرفت کاری دارد

سرک های داخل شهر نیلی ولایت دایکندی ۸,۸ کیلومتر طول و ١٤ متر عرض دارد که به ارزش بیشتر از ٦٣١ میلیون افغانی میان وزارت فوایدعامه و یک شرکت ساختمانی خصوصی قرار داد شده است.

این پروژه از سوی حکومت افغانستان تمویل می شود و تاکنون ۷۰ فیصد پیشرفت کاری دارد.

تطبیق این پروژه خواست اساسی مردم ولایت دایکندی بود، با تکمیل شدن کار این پروژه بر علاوه کاهش ازدحام ترافیکی و آلودگی هوای داخل شهر، مشکلات ترانسپورتی باشندگان شهر نیلی را حل می سازد.



## ټولګټو وزیر د ولسي جرګې له یو شمېر غړو سره وکتل

د ټولګټو وزارت وزیر انجنیر نجیب الله یمین نن ورځ په ولسي جرګې کې د ننګرهار، لوګر، زابل، کندوز او پکتیکا د خلکو له استازو سره د لیدنې پر مهال د هېواد په یو شمېر ولایاتو کې د سړکونو د رغونې او بیارغونې په موخه د دوی غوښتنې او وړاندیزونه د حل په موخه واورېدل. د ټولګټو وزارت وزیر د سړکونو د رغونې په برخه کې د ولسي جرګې د غړو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایه او همداراز یې اړونده مسوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې. او هم یې له دوی څخه وغوښتل چې د سړکونو د رغیدا، څار او ساتنې په برخه کې تلپاتې همکاري وکړي. په همدې حال کې د ولسي جرګې غړو له خپله اړخه په ولایاتو کې د هر راز همکاریو ډاډ څرګند کړ.



## دایکندی: سرک رباط میرامور ۵۲ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک دارای ۱۲ کیلومتر طول و ۸ متر عرض می باشد، که از بازار رباط دایکندی آغاز الی منطقه اسپلان ولسوالی میرامور ولایت دایکندی امتداد دارد و تا حال کار های ساخت آن بشکل اساسی با ۵۲ فیصد پیشرفت کاری، ادارمه دارد.

با ساختمان این سرک نه تنها مشکلات ترانسپورتی مردم منطقه را حل می میگردد، بلکه ولایت دایکندی را با ولایات بامیان و غزنی با سرک پخته وصل می کند. دایکندی از جمله ولایات افغانستان است که تا حال سرک های پخته زیاد نداشته، حالا وزارت فواید عامه با درنظر داشت اصل متوازن پیشرفت در این ولایت بسیاری از سرک ها را تحت کار دارد، با تکمیل شدن کار ساختمان پروژه ها دسترسی مردم را به دیگر مناطق را آسانتر می سازد.

